د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــاد، حـــج او اوقافـــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد

دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

**۱۱/ جمادی الأولی/۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۱ / عقرب/۱۴۰۵هـ، ش**

# الله تعالی په هر څه پوه دی او هر څه ویني؛ نو ځکه په پټه او ښکاره له هر قسم ګناهونو څخه ځان ساتل ضروري دي.

بسم الله الرحمن الرحیم

إن الحمد للهّٰ نحمده ونستعینه ونستغفره ، ونعوذ باللهّٰ من شرور أنفسنا ومن سیئات أعمالنا ، من یهده اللهّٰ فلا مضل له ، ومن یضلل فلا هادي له ، وأشهد أن لا إله إلا اللهّٰ وحده لا شریك له ، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، وبعد:

فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم. قال الله تبارك وتعالی في کتابه الکریم:(وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ).[۱]

**درنو مسلمانانو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

زموږ د نننۍ خطبې موضوع ډېره مهمه او د هر مسلمان د ژوند له اساسي موضوعاتو څخه ده، او هغه دا چې له ښکاره او پټو ګناهونو څخه ځان ساتل ضروري دي؛ ځکه الله تعالی زموږ په ټولو حالاتو، خبرو، اعمالو، نیتونو او ارادو خبر دی.

مسلمان باید یوازې د خلکو په مخ کې په ښکاره د ګناه له کولو څخه ځان ونه ساتي، بلکې په خلوت او تنهایۍ کې هم باید له الله تعالی څخه وویریږي. ځکه خلک زموږ ظاهر ویني، خو الله تعالی زموږ ظاهر او باطن دواړه ویني؛ خلک زموږ جهري خبرې اوري، خو الله تعالی زموږ پټې خبرې هم اوري؛ خلک زموږ له ځینو اعمالو خبر وي او له ځینو اعمالو خبر نه وي، خو الله تعالی زموږ له هر کوچني او لوی عمل څخه خبر دی.الله جل جلاله فرمایي:(إِنَّ اللَّهَ لَا يَخْفَىٰ عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ).[۲]

ترجمه: دا پخه خبره ده چې د ځمکې او اسمان هیڅ شی له الله څخه پټ نه دی.

د دې آیت معنا دا ده چې د الله تعالی له علم څخه هیڅ شی پټ نه دی. زموږ ښکاره او پټ اعمال، زموږ د زړونو خبرې، زموږ نیتونه، زموږ د شپې او ورځې کړنې، ټول الله تعالی ته معلوم دي.که یو انسان د خلکو له سترګو پټ شي، د الله تعالی له علم څخه نه شي پټېدای. که د شپې په تیاره کې ګناه وکړي، الله تعالی یې ویني. که په تړلې کوټه کې ګناه وکړي، الله تعالی پرې خبر دی. که د خلکو په وړاندې ځان نیک ښـکاره کړي، خو په پټه بد عملونه کوي، الله تعالی یې له حقیقت څخه خبر دی.الله تعالی فرمایي:(يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ).[۳]ترجمه:معلوم دي الله تعالی ته خیانت د سترګو او هغه نیات چې پټوي یې سینې

د سترګو خیانت دا دی چې انسان په ظاهره ځان پاک ښکاره کوي، خو په پټه حرامو ته ګوري، د خلکو ناموس ته په ناپاک نظر ګوري یا په سترګو داسې اشارې کوي چې الله تعالی پرې ناراضه کېږي.

---

[۱]- الأنعام:( ۱۲۰)

[۲]- آل عمران:( ۵)

[۳] - غافر:( ۱۹)

همدارنگه الله تعالی زمونږ په زړونو کې پټ کبر، حسد، ریا، کینه، بد نیت او په نورو اخلاقي عیبونو خبر دی.
نو راځئ! له الله تعالی څخه په ښکاره او پټه ووېرېږو او خپل ظاهر او باطن دواړه اصلاح کړو.
الله تعالی زمونږ ټول پټ او ښکاره اعمال ویني.الله تعالی فرمايي:(أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ).(٤)
ترجمه: آیا نه پوهیږي دغه (منکر کافر) په دې چې بېشکه الله ویني (اعمال د ده نو جزاء به پرې ورکړي).
انسان کله داسې فکر کوي چې که د خلکو له نظره پټ شي، نو هېڅوک به یې له عمل څخه خبر نه شي؛ خو دا د غفلت او ناپوهی فکر دی.الله تعالی فرمايي:(وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ).(٥)
ترجمه: هغه له تاسې سره دی تاسې چې هر چیرته واست.او الله ستاسې د کړنو ښه لیدونکی دی.
داچې الله تعالی له موږ سره دی ، ددې څخه د الله تعالی د علم، اورېدنې، لیدنې او څارنې په اعتبار سره دی .
له همدې امله مسلمان باید هر وخت له ځانه وپوښتي: که خلک زما دا عمل نه ویني، ایا الله تعالی یې نه ویني؟ که خلک زما په دې گناه نه خبرېږي، ایا الله تعالی پرې خبر نه دی؟ . هو! الله تعالی هر څه ویني او هر څه ورته معلوم دي.
هرکله چې الله تعالی زمونږ په پټو او ښکاره وو عالم دی او زمونږ هر څه ویني ، نو بیا په کار ده چې مونږ له پټو او ښکاره گناهونو څخه په هرحال کې ځانونه وساتو. الله جل جلاله د ښکاره گناهونو او پټو گناهونو څخه منع فرمايلې ده. په یو بل مبارک آیت کې الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ).(٦)
ترجمه:ښکاره او پټې ټولې گناه گانې پرېږدئ او څوک چې گناهونه کوي ډیر ژر به د خپلو کړوبدل ورکړای شي.
په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمايي چې زنا او نورو کبیره گناهونو ته مه نږدې کیږئ که هغه په پټه وي او که په ښکاره وي.
الله جل جلاله فرمايي: (وَلاَ تَقْرَبُواْ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ).(٧)
ترجمه:او مه نژدې کیږئ گناه ته ښکاره وي او که پټه.
په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمايي:(قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ).(٨)
ترجمه: ای محمده! ووایه زما رب ښکاره او پټ ټول بد کارونه منع کړي دي
په دې آیت کې الله تعالی موږ ته څرگندوي چې د گناه حراموالی یوازې په ښکاره حالت پورې محدود نه دی، بلکې ښکاره او پټ دواړه گناهونه منع دي. ښکاره گناهونه؛ لکه:دروغ ویل، غیبت کول او د خلکو ترمنځ فساد اچول، ظلم کول، د خلکو حقونه خوړل او په ناحقه مال اخیستل، سود،رشوت، دوکه او خیانت کول، د نامحرمو سره ناروا اړیکې او ښکاره بې‌حیایي، د مور او پلار نافرماني او د خپلوانو سره د اړیکو پرېکول، او پټ گناهونه لکه : په پټه حرامو ته کتل، ریاء، کبر، حسد او کینه په زړه کې ساتل، په خلوت کې د الله تعالی له امرونو سرغړونه، د خلکو د مال، عزت او حقونو په اړه پټ خیانت، په ظاهر کې د نېکۍ ښودل، خو په باطن کې د بد نیت لرل، په راکړه ورکړه کې دوکه کول او د مبیعې عیب پټول. نو مسلمان باید نه یوازې خپل ظاهر پاک کړي، بلکې خپل زړه، نیت او باطن هم پاک وساتي.
مسلمان باید په هر ځای کې په هر حالت کې خپل رب حاضر او ناظر وگڼي او له پټو او ښکاره گناهونو څخه ځان وساتي او دا عقیده ولري چې که زه په دنیا کې په پټه گناه وکړم ، خو په آخرت کې به له الله تعالی څخه څرنگه پټ شم؟ الله تعالی فرمايي:(يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَىٰ مِنْكُمْ خَافِيَةٌ).(٩) ترجمه: تاسو به الله ته وړاندې کړای شئ او هیڅ به مو پټ نه وي.
په دنیا کې کېدای شي انسان خپل عمل له خلکو پټ کړي، دروغجن عذرونه ورته جوړ کړي او د خپلو تېروتنو د پټولو هڅه وکړي؛ خو د قیامت په ورځ به د الله تعالی له حساب څخه د تېښتې لار نه وي.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:«اتَّقِ اللَّهَ حَيْثُمَا كُنْتَ».(١٠)ژباړه: له الله تعالی څخه ووېرېږه، هر چېرې چې یې.

---

٤ - العلق:(١٤)
٥ -الحدید:(٤)
٦ - الأنعام:(١٢٠)
٧ -الانعام: (١٥١)
٨ - الأعراف:(٣٣)
٩ - الحاقة:(١٨)
١٠ - سنن الترمذي ت بشار (٣/ ٤٢٣)

دا مبارک حدیث موږ ته رانښيي چې تقوی یوازې په جومات کې، د خلکو په مجلس کې یا د نېکانو په حضور کې اختیارول نه دي په کار ؛ بلکې تقوی باید په کور، بازار، دفتر، سفر، خلوت او تنهایی کې او په هر حالت کې باید اختیار شي او له مسلمان سره باید موجوده وي.

په یوه صحیح حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو اوو کسانو یادونه کړې چې الله تعالی به یې د قیامت په ورځ د خپل عرش تر سیوري لاندې ځای کړي، په هغه ورځ چې د هغه له سیوري پرته به بل سیوری نه وي. په هغوی کې یو کس داسې دی:«وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ: إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ».[11]

ژباړه:او بل هغه سړی چې د لوړ مقام او ښکلا لرونکې ښځه ورځخه ناروا غوښتنه وکړي او هغه ورته ووايې چې زه له الله تعالی ځخه وېرېږم.

دې سړي ته د ګناه فرصت برابر و، د خلکو له خبریدو ځخه هم په امن کې و، خو د الله تعالی وېره یې د ګناه مخه ونیوله.

دا د رښتیني ایمان نښه ده چې انسان د ګناه توان ولري، فرصت ورته برابر وي، څوک یې نه ویني، خو بیا هم د الله تعالی له وېرې ګناه نه کوي.

د هغو خلکو په هکله الله تعالی سخت وعید ذکر کړی دی چې د خلکو په وجه د ښکاره ګناهونو ځخه ځانونه ساتي؛ خو په پټه دګناه کولو پروا نکوي او د الله جل جلاله ځخه نه ویریږي. الله جل جلاله فرمایي:(يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ اللهِ وَهُوَ مَعَهُمْ).[12]

ترجمه:داخلک خپلې کړنې له خلکو ځخه پټوي او له الله ځخه یې نه پټوي په داسې حال کې چې الله پاک هغه وخت هم له دوی سره دی ځینې خلک ظاهراً ځان بزرګ او تقوی داره خلکو ته معرفي کوي او په پټه د ګناه کولو هیڅ پروا نکوي او له الله تعالی ځخه نه ویریږي، ددغو په سپینو جامو کې د پټو جنایتکارانو اعمال به الله تعالی د قیامت په ورځ باطل و ګرځوي لکه چې په حدیث شریف کې راځي. « عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: «لَأَعْلَمَنَّ أَقْوَامًا مِنْ أُمَّتِي يَأْتُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِحَسَنَاتٍ أَمْثَالِ جِبَالِ تِهَامَةَ بِيضًا، فَيَجْعَلُهَا اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ هَبَاءً مَنْثُورًا» ، قَالَ ثَوْبَانُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ صِفْهُمْ لَنَا، جَلِّهِمْ لَنَا أَنْ لَا نَكُونَ مِنْهُمْ، وَنَحْنُ لَا نَعْلَمُ، قَالَ: «أَمَا إِنَّهُمْ إِخْوَانُكُمْ، وَمِنْ جِلْدَتِكُمْ، وَيَأْخُذُونَ مِنَ اللَّيْلِ كَمَا تَأْخُذُونَ، وَلَكِنَّهُمْ أَقْوَامٌ إِذَا خَلَوْا بِمَحَارِمِ اللَّهِ انْتَهَكُوهَا».[13]

ژباړه: د حضرت ثوبان رضي الله عنه ځخه روایت دی ، هغه د نبي علیه السلام ځخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل:خامخا زه ډېر ښه پیژنم هغه خلک زما له امت ځخه چې را به شي د قیامت په ورځ په نیکیو سره د تهامې د سپینو غرونو په اندازه او بیا به الله تعالی دغه ددوی نیکیانې وګرځوي باطلې (ګرد شیندل شوی په هوا کې). ثوبان رضي الله عنه وویل بیان کړه داخلک مونږ ته او ښکاره یې کړه مونږ ته ای د الله رسوله! داسې نه چې مونږ ددغو خلکو له جملې ځخه یو او مونږ به په ځان خبر نه یو. نبي علیه السلام وفرمایل: دوی به ستاسې ورونه وي او ستاسې له جنس ځخه به وي او دوی به له شپې ځخه عبادت کوي لکه څرنګه چې تاسې عبادت کوی، مګر دا داسې قوم دی چې کله یواځې شي د الله تعالی له منهیاتو سره ،نو هغه د پښو لاندې کړي.

د دې حدیث پیغام ډېر ژور دی: انسان باید په عبادت او نېکۍ کې یوازې د خلکو په وړاندې ځان ښه نه کړي، بلکې په خلوت کې هم د الله تعالی د حدودو خیال وساتي. د همدې وجې نه په ښکاره د صالحینو هیئت ظاهرول او په خلوت کې دګناهونو کول ولو که صغیره هم وي امام ابن حجر هیثمي رحمه الله داسې کړنه د کبیره ګناهونو له جملې ځخه شمیرلی دی او لیکلي یې دي:(الْكَبِيرَةُ السَّادِسَةُ وَالْخَمْسُونَ بَعْدَ الثَّلَاثِمِائَةِ: إظْهَارُ زِيِّ الصَّالِحِينَ فِي الْمَلَأِ وَانْتِهَاكُ الْمَحَارِمِ وَلَوْ صَغَائِرَ فِي الْخَلْوَةِ).[14]

خو دا هم مهمه ده چې د دې حدیث له امله څوک د الله تعالی له رحمته ناهیلی نه شي.

که انسان ګناه وکړي، باید سمدستي توبه وباسي، د الله تعالی رحمت ته رجوع وکړي او د ګناه د تکرار مخه ونیسي.

الله تعالی فرمایي:(قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ).[15]

ترجمه: ای پیغمبره! زما هغو بنده ګانو ته چې پر ځانونو یې تیری کړی دی ووایه چې د الله له رحمت نه مه مایوسه کیږئ. ځکه چې الله ټول ګناهونه بښي او بې شکه چې هغه ښه بښونکی او ډېر مهربان دی.

---

[11] - صحیح البخاري(۱ /۱۳۳)

[12] - النساء:( ۱۰۸)

[13] - سنن ابن ماجه (۲ /۱٤۱۸). وَفِي الزَّوَائِدِ إِسْنَادُهُ صَحِيحٌ رِجَالُهُ ثِقَاتٌ.حاشية السندي على سنن ابن ماجه (۲/ ٥٦۱)

[14] - الزواجر عن اقتراف الكبائر (۲ /۲۰۹)

[15] - الزمر:( ٥۳)

همدا راز په ښکاره ګناه کول نسبت پټې ګناه ته دوه چنده سزا لري يو د ګناه کولو سزا او بل په ټولنه کې د ګناه د خپرولو سزا.

په حديث شريف کې راځي. عن أَبَي هُرَيْرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ وَإِنَّ مِنْ الْمُجَاهَرَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ فَيَقُولَ يَا فُلَانُ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللَّهِ عَنْهُ».[١٦]

ژباړه: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې داسې يې وفرمايل: هر يو امتي زما ته ببښنه کيږي، پرته د ګناه دښکاره کوونکو څخه( اعلانوونکو د ګناه ته به ببښنه نه کيږي)[١٧] .

او د ښکاره ګناه کولو څخه دا هم ده چې يو سړی د شپې له خوا يو عمل (د ګناه) وکړي او بيا چې صبا شي او حال داچې الله تعالی وربانديې د شپې پرده اچولې وي ، نو وايي ای فلانيه! ما تيره شپه داسې داسې(د ګناه) کار وکړ او حال داچې ده شپه تيره کړه او پرده پرې اچولې وه رب دده او چې صباح يې کړ ، نو ظاهروي خلکو ته د الله تعالی پرده په هغه.

په ټولنه کې دګناه د خپروونکو ، ظاهروونکو او ښکاره کوونکو لپاره الله تعالی دردوونکی عذاب مقرر کړی دی او فرمايلي يې دي:( إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ).[١٨]

ترجمه: بې له شکه د هغو کسانو لپاره چې د مؤمنانو په مينځ کې د فحشاوو خپرول خوښوي، په دنيا او اخرت کې دردناک عذاب دی الله پوهيږي او تاسې نه پوهيږ..ددې آيت سبب نزول ولو که خاص دی ، مګر عبرت عموم د لفظ لره دی ، نو څوک چې هر ډول فاحش او د ګناه کار وکړي او په ټولنه کې يې هغه فاحش عمل خپور کړ، نو ددې آيت وعيد ورته شامل دی او په دنيا کې به مرتکب د حد يا د تعزير وي او په آخرت کې دردوونکی عذاب دی.

د ښکاره ګناه په وجه عذابونه نازليږي او دا ځکه چې په ښکاره ګناه کې د الله تعالی او د الله د رسول صلی الله عليه وسلم او د مؤمنانو د حقوقو استخفاف او سپکاوی پروت وي او په ښکاره ګناه کول د حياء په قلت دلالت کوي.

علامه ابن بَطَّالٍ رحمه الله ليکي:(فِي الْجَهْرِ بِالْمَعْصِيَةِ اسْتِخْفَافٌ بِحَقِّ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَبِصَالِحِي الْمُؤْمِنِينَ وَفِيهِ ضَرْبٌ مِنَ الْعِنَادِ لَهُمْ).[١٩]

ژباړه: په ښکاره سره ګناه کولو کې د الله تعالی د الله د رسول او د صالحو مؤمنانو د حقوقو سپکاوی موجود وي او په جهر سره په ګناه کولو کې يو ډول عناد او سرکشي هم موجوده وي.په يو حديث شريف کې راځي.عن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ -رضي الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ:« مَا ظَهَرَ فِي قَوْمٍ الرِّبَا وَالزِّنَا، إِلاَّ أَحَلُّوا بِأَنْفُسِهِمْ عِقَابَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ ».[٢٠]

ژباړه: د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه د نبي عليه السلام څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: نه ښکاره کيږي په يو قوم کې سود او زنا ؛ مګر داچې نازل کړ (دغه قوم) په ځانونو باندې د الله تعالی عذاب.

په يو بل حديث شريف کې راځي. عَنْ مُعَاذٍ قَالَ: أَوْصَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ ...«وَإِيَّاكَ وَالْمَعْصِيَةَ؛ فَإِنَّ بِالْمَعْصِيَةِ حَلَّ سَخَطُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ».[٢١]

ژباړه:د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت د ی ، هغه وايې چې ماته وصيت کړی دی نبي عليه السلام په لسو خبرو باندې... چې د هغې له جملې څخه يوه دا خبره ده چې ځان وساته له ګناه څخه، ځکه په ګناه سره واقع کيږي عذاب دالله تعالی .

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په حديث شريف کې راځي چې نبي عليه السلام فرمايلي دي:(لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ، حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا، إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الطَّاعُونُ، وَالْأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلَافِهِمُ الَّذِينَ مَضَوْا، وَلَمْ يَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ، إِلَّا أُخِذُوا بِالسِّنِينَ، وَشِدَّةِ الْمَئُونَةِ».[٢٢] ژباړه: نه ظاهريږي زنا يا کبيره ګناه په يو قوم کې هيڅکله په علني ډول، مګر داچې زياتيږي په هغوی کې طاعون او داسې مرضونه چې نه به وي تير شوي د هغوی په اسلافو کې چې مخکې تير شوي دي او هيڅکله به يو قوم نه کموي پيمانه او تول ، مګر داچې نيول کيږي به هغوی په قحطۍ سره او په سخت مشقت باندې.

---

[١٦] - صحيح البخاري ت (١٥ /٢٨٣)، صحيح مسلم (٨/ ٢٢٤)

[١٧] - فتح الباري لابن حجر (٦/ ٤٢)

[١٨]-النور:(١٩)

[١٩] - فتح الباري لابن حجر (١٧/ ٢٣٨)

[٢٠] - مسند أحمد ط الرسالة (٦/٣٥٨)

[٢١] - مسند أحمد مخرجا (٣٦/ ٣٩٢)

[٢٢] - سنن ابن ماجه (٢/ ١٣٣٢)، حلية الأولياء (٨/ ٣٣٤)، مسند البزار (١٢/ ٣١٥)

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: «إِذَا بُخِسَ الْمِكْيَالُ حُبِسَ الْقَطْرُ ، وَإِذَا كَثُرَ الزِّنَا وَقَعَ الطَّاعُونُ ، وَإِذَا كَثُرَ الْهَرْجُ كَثُرَ الْقَتْلُ».[٢٣]

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه به ويل: كله چې كمه كړل سوه پيمانه ؛ نو بند به كړل شي أورښت او باران او كله چې زياته شوه زنا ؛ نو واقع به شي طاعون او كله چې زيات شول بې نظمي او فتنې ، نو زيات به شي قتل .

همدارنګه كله چې په ټولنه كې ګناهونه په ښكاره ډول كيږي او بيا عذاب راشي ؛ نو ټوله ټولنه د عذاب مستحقه ده.

حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله فرمايي: كَانَ يُقَالُ: «إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لَا يُعَذِّبُ الْعَامَّةَ بِذَنْبِ الْخَاصَّةِ، وَلَكِنْ إِذَا عُمِلَ الْمُنْكَرُ جِهَارًا، اسْتَحَقُّوا الْعُقُوبَةَ كُلُّهُمْ».[٢٤]

ژباړه: مخكې به ويل كيدل چې بيشكه الله تعالى عام خلک د خاصو خلكو د ګناه په وجه نه په عذابوي؛ مګر كله چې په منكرات باندې په علني او ښكاره ډول عمل كيږي (او څوک يې مخه نه نيسي) ، نو ټول د عذاب مستحق دي.

امام مالك رحمه الله څخه نقل دي:عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ: (تُهْجَرُ الْأَرْضُ الَّتِي يُصْنَعُ فِيهَا الْمُنْكَرُ جِهَارًا وَلَا يُسْتَقَرُّ فِيهَا).[٢٥]

ژباړه: د امام مالک رحمه الله څخه نقل دي چې هغه ويلي دي: هجرت به كولى شي د هغه ځمكې څخه چې په هغې كې په ښكاره ډول منكرات كيږي او په داسې ځمكه كې دې نه پاتې كيږي.

**د ګناهونو نقصانات:**

١-ګناهونه انسان د علم څخه محروموي. لكه چې امام شافعي رحمه الله فرمايي:

شكوت إلى وكيع سوء حفظي * فأرشدني إلى ترك المعاصي
لأن العلم نور * ونور الله لا يعطىٰ لعاصي

٢-ګناهونه دانسان رزق تنګوي.

٣-ګناهونه انسان د الله تعالى د طاعت څخه محروموي، او د مسلمان لپاره ددې څخه غټه سزا نشته چې د الله تعالى د عبادت څخه محرومه شي.

۴-ګناهونه زړه او بدن كمزورى كوي او عمر لنډوي او بركت له منځه وړي.

۵-ګناهونه نور ګناهونه زيږوي ؛ ځكه چې يوه ګناه د بلې ګناه لپاره پُل وي.

٦-ګناهونه انسان له توبې څخه لرې باسي او د توبې اراده كمزورې كوي.

٧-ګناهونه د هلاک شوو امتونو ميراث دی.

٨-ګناه انسان د الله تعالى په وړاندې سپكوي.

٩-ګناه د ذلت سبب دی او د طاعت د عزت سبب دی.

١٠-ګناهونه عقل فاسدوي ځكه عقل نور لري او ګناه د عقل نور وژني.

١١-ګناهونه په ځمكه كې ډول ډول فسادونه رامنځ ته كوي؛ لكه په هواء كې فساد، په اوبو كې فساد، په ميوو كې فساد، په باغونو كې فساد او داسې نور.

١٢ـ ګناه انسان ته ددې جرأت وركوي چې نور ګناهونه وكړي او د ګناه حس په زړه كې كمزورى كوي.[٢٦]

**اقول قولي هذا، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

---

٢٣ - السنن الواردة في الفتن للداني (٣/ ٦٨٩)

٢٤ - موطأ مالك ت عبد الباقي (٢/ ٩٩١)

٢٥ - تفسير القرطبي (٧/ ٣٩٢)

٢٦ - نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم (١٠/ ٥٠٠٩)